په لمانځه کې په سینه باندې د لاسونو ایښودلو باره کې رساله

# كَشفُ الدُّرَر

## فِيْ وَضعِ الْيَدَيْنِ عَلَى الصَّدْرِ

تألیف:

الشيخ أبويزيد عبدالقاهر خراساني حفظه الله

بسم الله الرحمن الرحيم

# د کتاب پیژندنه

د کتاب نوم:کشف الدرر في وضع اليدين على الصدر

د مؤلف نوم: فضيلة الشيخ أبويزيد عبدالقاهر خراساني حفظه الله

د چاپ ګڼه: لمړۍ ګڼه

د چاپ تعداد: ۱۰۰۰ عدد

نشر کوونکې اداره: أبطال الاسلام.

لاسته راوړلو ځای: http://www.abtal.webs.com

د چاپ حقوق ادارې سره محفوظ دي

# سلطانكشف الدرر

## في وضع اليدين على الصدر

سلطان

سلطانتأليف

سلطانأبويزيد عبدالقاهر خراساني حفظه اللّه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على رسوله الامين محمد واله واصحابه اجمعين- اما بعد: د الله تعالى په عباداتوكي مونځ يواهم عبادت دي خو په عباداتوكي دوه شيان ډيرلازم دي يو اخلاص اوبل د رسول الله متابعت چې دا دواړه په يو عبادت كې نه وي نو هغه عبادت مردود دي.لهذا دټولومسلمانانوتقريباً په دې اتفاق دي چې په مونځ كې دقيام په حال كې لاسونه تړل په كاردي البته يوقول د امام مالك چې په نه تړلوقائل دى نقل دى خو هغه صحيح نه دى بلكه ارسال د روافضواو شيعه ګانو عمل دى د اهل السنة پدي باره كې اختلاف دي بعض دنامه نه لاندې او بعض يې دسيني دپاسه قائل دي البته دنامه نه لاندې لاس تړلوكي يو صحيح مرفوع حديث نه شته لكه چې مونږبه دا روسته دمخالفينوپه دلائلوكي ذكر كړو- لهذا دا مونږبه وګڼله چې په دې باره كې جانبين دلائل ذكركړو او بيا قضاوت لوستونكو ته پريږدو اګركه موجوده دفتنودور د دې فروعي مسائلو نه دى، ځكه نن په مونږ كفري طاغوتي حكومتونه مسلط دي اول د دې غم كول په كاردي خومونږبايد ددين حفاظت د هري خوانه وكړو چې كومه خبره په دليل بناءوي هغه منل په كاردي بغيردتعصب مذهبي نه.دې رساله كې به ان شاء الله اول د وضع اليدين على الصدردلائل اوبيا دمخالفينوددلائلوتجزيه ذكركړو.الله تعالى دي وكړي چې دا رساله دخلكولپاره ذريعه دعمل اوزمونږلپاره ذريعه دنجات د دارينووګرځي آمين

## فـصـل

## دلاسونوايښودل په سينه باندې سنت دي

**١ دليل**: عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ أَنَّهُ قَالَ: كَانَ النَّاسُ يُؤْمَرُونَ أَنْ يَضَعَ الرَّجُلُ الْيَدَ الْيُمْنَى عَلَى ذِرَاعِهِ الْيُسْرَى فِي الصَّلاَةِ، قَالَ أَبُو حَازِمٍ: و لاَ أَعْلَمُ إِلاَّ أَنَّهُ يَنْمِي ذَلِكَ إِلَى النَّبِي ﷺ. صحيح البخاري ٧٤٠ ، أبوعوانة جـ٢ صـ٩٧ والموطاء باب وضع اليدين في الصلاة.

**ترجمه**: سهل بن سعد الساعدي وايې: چې رسول الله ﷺ په زمانه کې به داحکم کيدلوچې په مونځ کې دي ښي لاس په چپ څنګل کيږدي أبوحازم وايې چې زه پوهيږم چې سهل بن سعد رضي الله عنه دا حديث د رسول الله نه مرفوع روايت کړي دي.

**٢ دليل**: عن وَائِلِ بْن حُجْرٍ قَالَ: قُلْتُ لَأَنْظُرَنَّ إِلَى صَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ يُصَلِّي، فَنَظَرْتُ إِلَيْهِ فَقَامَ فَكَبَّرَ، وَرَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى حَاذَتَا بِأُذُنَيْهِ، ثُمَّ وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى كَفِّهِ الْيُسْرَى وَالرُّسْغِ وَالسَّاعِدِ. الحديث. صحيح ابن خزيمة جـ١ صـ٢٤٣ رقم ٤٨٠-٧١٤ وصحيح ابن حبان جـ٣ صـ١٦٧ ، وأحمد جـ٤ صـ٣١٨ سنن النسائي جـ٢ صـ١٢٦ رقم ٨٩٠ وأبوداود رقم ٧٢٧، وسنده صحيح.

**ترجمه**: وائل بن حجر وايې ماوويل چې خامخابه زه د رسول الله ﷺ مونځ ګورم چې څنګه مونځ کوي؟ نوماهغه وکتلوچې پاڅيدلواو تکبيرئې وويلو او رفع اليدين يې وکړل ترديچې دغوږونوسره يې برابرکړل بيائې کيښوده ښي لاس په چپ څنګل او ورغوي باند ي.

**د حديث تحقيق**: وائل بن حجر جليل القدر صحابي دي. التقريب ٧٣٩٣.

کليب صدوق دي. التقريب ٥٦٦٠.

عاصم بن کليب هم صدوق رمي بالارجاء دي. التقريب ٣٠٧٥.

لکن دمسلم راوي دی. زائدبن قدامه ثقة ثبت صاحب سنة ؤ. التقريب ٦٩٨٢.

أبوالوليد هشام بن عبد الملك الطيالسي ثقه ثبت راوي دی. التقريب ٧٣٠١.
الحسن بن علي الحلواني ثقة حافظ له تصانيف. التقريب ١٢٦٢.
معلومه شوه چې سندصحيح دی د دې وجې نه نيموي حنفي هم وايې:
واسناده صحيح. آثار السنن صـ٨٣.
**استدلال**: حديث دصحيح البخاري کې ذراع راغلي دي چې د ذراع تفسيربياپه دوهم حديث کې په الكف، الرسغ اوالساعد سره راغلي دي.
**د لغتو علماء وايي**: الساعد: مابين المرفق والكف من أعلى. المعجم الوسيط جـ١ صـ٤٣٠.
د ځنګلې د پورته حصې نه دلاس تر ورغوي پورې ديته ساعد وايې اود ساعدنه مراد ټول ساعددی بعضې ساعدنه دی.
**ابن حجر العسقلاني وايي**: لأن العبرة بعموم اللفظ حتى يقوم دليل على التخصيص. فتح الباري جـ٢ صـ٢٦١ رقم الحديث ٢٩١٥.
يعنې اعتباربه دلفظ عموم لره وي تردې چې دليل په تخصيص قائم شي. او دلته کوم صحيح تخصيص نه شته چې مرادترينه بعض ساعدشي نوچې کله په ټول ساعدلاس کيښودل شي نوخود به خودپه سينه باندې راځي ورنه دادي مقلدين تجربه کړي.
**٣-دليل**: امام احمد رحمه الله فرمايي: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنْ سُفْيَانَ حَدَّثَنِي سِمَاكٌ عَنْ قَبِيصَةَ بْنِ هُلْبٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْصَرِفُ عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ يَسَارِهِ وَرَأَيْتُهُ قَالَ يَضَعُ هَذِهِ عَلَى صَدْرِهِ وَصَفَّ يَحْيَى الْيُمْنَى عَلَى الْيُسْرَى فَوْقَ. مسند أحمد جـ٥ صـ٢٢٦ رقم ٢٢٣٢٣ وسنده حسن، التحقيق لابن الجوزي جـ١ صـ٢٨٣.
**ترجمه**: هُلب الطائي ﷺ فرمايي: ما رسول الله ﷺ وليده کله چې دمونځ نه فارغ شو چې ښي او چپ طرفته يې سلام وګرځولو- اوومي ليدلو چې

ايښودل به يې لاسونه په سينه باندې. يحيى بن سعيد القطان وايې چې ښي په چپ د سيني د پاسه يې کيښودلو. عملاً يې وښودلو.

## د حديث تحقيق

**١- يحيى بن سعيد القطان**: ثقة متقن حافظ إمام قدوة من كبار التاسعة. التقريب ٧٥٥٢.

**٢- سفيان ثوري**: ثقة حافظ فقيه عابد إمام حجة، وكان ربما دلس. التقريب ٢٤٤٥.

**٣- سماك بن حرب**: دکتب سته راوي دی اوداوساطو تابعينونه دی په صحيح البخاري او مسلم کې لاندېني روايات دي. صحيح البخاري ٦٧٢٢.

امام بخاري وايې: تابعه يونس وسماك بن عطية وسماك بن حرب. صحيح مسلم٢٢٤، ٤٣٦، ١٢٨، ٤٥٩، ٤٩٩، ٦٠٦، ٦٤٣، ٦٧٠، ٨٦٢، ٩٧٨، ١٠٧٥، ١٣٨٥، ١٥٠٤، ١٦٢٨، ١٦٥١، ١٦٨٠، ١٦٩٣، ١٨٢١.

او نوردعلامه فواد عبد الباقي په ترقيم کې دسماك بن حرب روايات په مسلم کې **۴۵** دي اوپه سنن اربعه کې بيا بي شميره دي.

**د سماك جارحين**:

**١- شعبة**: قال يحيى بن معين: سماك بن حرب ثقة **وكان شعبة يضعفه**. تاريخ بغداد ترجمه رقم ٤٢٩٣ جـ٢ صـ٢١٥.

ابن معين **۱۵۷**هـ کې پيدادي او شعبة بن الحجاج سنــه ۱۲۰هـ کې وفات شويدي معلومه شوه چې دا روايت منقطع دي.

**٢- سفيان ثوري**: **كان يضعفه بعض الضعف**. تاريخ الثقات للعجلي ٦٢١ وتاريخ بغدادجـ٢ صـ٢١٦.

سفيان ثوري ١٢١هـ كې وفات دی او امام العجلي په ٢٦١هـ كې وفات دی. دا روايت هم منقطع دی.

**دوهم دا** چې دشعبه اوسفيان دواړه نه داهم ثابت ده چې دوی د سماك بن حرب نه روايت كوي

**٣- احمدبن حنبل**: دي وايي: **سماك بن حرب مضطرب الحديث**. الجرح والتعديل جـ٣ صـ٢٧٩.

يعني دي ګډوډ حديث والاؤ.

جواب د دې قول يو راوي محمدبن حمويه بن الحسن دي چې توثيق يې معلوم نه دی دوهم دمحمد داجرحه صرف سماك عن عكرمة عن ابن عباس سره تعلق لري. وګوره كتاب العلل ومعرفة الرجال جـ١ صـ١٥٤ رقم ٧٧٥.

**٤: ابن حبان**: سماك بن حرب يې په الثقات كې ذكركړي دي بياوائي: **يخطئ كثير روي عنه الثوري وشعبة**. وګوره الثقات جـ٤ صـ٤٣٩.

لكن دا د دري وجونه مردوده جرح ده اول كه دابن حبان په نزد دي ثقه نه وي نو ولي يې په الثقات كې ذكركولو؟ امام الباني وايې داقول دابن حبان چې: **كان يخطئ كثيرا. وهذامن افراده وتناقضه إذ لوكان يخطئ كثيرا لم يكن ثقة**. الضعيفة جـ٢ صـ٣٣٣ رقم ٩٣٠.

دا دابن حبان تفرد او تناقض دی ځكه كه يو راوي خطا ډيره كوي نو هغه بيا ثقه نه وي.

٢- حافظ ابن حبان خپله د سماك بن حرب ډيرروايات په صحيح ابن حبان كې راوړي دي. وګوره حديث رقم ٦٦ - ٦٨ - ٦٩ وغيره.

٣- ابن حبان په خپل كتاب: مشاهير علماء الامصار كې سماك بن حرب ذكر كړي ولي هيڅ جرح يې پري نه ده كړي وګوره مشاهيرعلماء الامصار لابن حبان صـ١١٠ ترجمه رقم ٨٤٠.

**د سماک معدلين**:

**١ – امام مسلم رحمه الله**: احتج به في صحيحه. ميزان الاعتدال ج٢ ص٢٣٣.

يعنې امام مسلم رحمه الله په خپل صحيح کې پرې حجت نيولی دی.

**٢ – امام بخاري رحمه الله**: امام بخاري دده حديث رقم ٢٧٢٢ کې ذکرکړي.

امام ذهبي رحمه الله وايې: **وقد علق له البخاري استشهادا به** . سيراعلام النبلاء ج٥ ص٢٤٨.

يعنې امام بخاري د ده روايت بطوراستشهاد ذکر کړي او کوم راوي باندې چې امام بخاري بطور استشهاد دهغه نه روايت وکړي هغه دده په نزد ثقه وي.

محمدبن طاهر المقدسي المتوفى سنــة**٥٠٧** وايې: بل استشهدبه في مواضع ليبين أنه ثقة اهـ . شروط الائمة الستة ص١٨.

د مؤمل بن اسماعيل روايت امام بخاري داستشهاد په طورذکر کړي چې واضح شي چې دي ثقه دي.

**٣- شعبة** روى عنه . صحيح مسلم ٢٢٤.

او شعبه په هکله داعامه طريقه ده چې دي صرف دثقه نه روايت کوي. تهذيب التهذيب ج١ ص٣- ٥ ، وقواعد في علوم الحديث للتهانوي ص٢١٧.

**٤ – سفيان الثوري**: مايسقط لسماك بن حرب حديث. تاريخ بغداد ج٩ ص٢١٥ – وسنده حسن لذاته.

يعنې د سماك يو حديث هم ساقط نه دی.

**٥- يحيى بن معين** ثقة. الجرح والتعديل ج٤ ص٢٧٩ وتاريخ بغداد ج٩ ص٢١٥ وسنده صحيح قاله الزبير.

**٦- ابو حاتم الرازي**: صدوق ثقة.الجرح والتعديل ج٤ ص٢٨٠. ٧.

**٧- احمد بن حنبل**: سماك أصلح حديثا من عبدالملك بن عمير. الجرح والتعديل جـ٤ صـ٢٧٩- ٢٨٠ وسنده صحيح.

**٨- ابواسحاق السبيعي**: خذوا العلم من سماك بن حرب. الجرح والتعديل جـ٤ صـ٢٧٥وسنده حسن.

يعني علم د سماك بن حرب نه و اخلي.

**٩- العجلي**: جائزالحديث، ذكرفي الثقات.

**١٠- ابن عدي**: وأحاديثه حسان عن من روى عنه وهو صدوق لابأس به.الكامل جـ٣ صـ١٣٠٠.

**١١- الترمذي**: امام الترمذي هم دده ډير احاديث حسن صحيح ګرځولي دي وګوره جامع الترمذي حديث رقم ٦٥- ٢٠٢- ٢٢٧.

**١٢- ابن شاهين**: ذكره في كتاب الثقات ٥٠٥ .

**١٣- الحاكم**: صحح له في المستدرك جـ١ صـ٢٩٧.

**١٤- الذهبي**: صحح له في التلخيص جـ١ صـ٢٩٧. وقال: صدوق جليل. المغني ٢٦٤٩ ، الحافظ الامام الكبير. سيراعلام النبلاء جـ٥ صـ٢٤٥.

**١٥- ابن حبان**: احتج به في صحيحه.

**١٦- ابن خزيمة**: صحح له في صحيح ابن خزيمة جـ١ صـ٨

**١٧- البغوي**: هذاحديث حسن . شرح السنة جـ٣ صـ٣١حديث رقم٥٧٠.

**١٨- امام النووي**. -١٩ ابن عبدالبر.٢٠ ابن الجارود.٢١- الضياء المقدسي. ٢٢- المنذري. **٢٣**- ابن حجر العسقلاني. **٢٤**- أبوعوانة.

**٢٥**- أبونعيم الاصفهاني ٢٢- ابن سيد الناس.

**الغرض**: سماك بن حرب ثقه راوي دى چې حديث يې صحيح او قابل استدلال دي.

**اعتراض**: نیموي صاحب وايي : رواه أحمد واسناده حسن لكن قوله على صدره **غير محفوظ**. آثارالسنن ص٨٧ حديث ٣٢٦.

يعنې على صدره لفظ محفوظ نه دی نوراسناد حسن دي.

**جواب**: نیموي صاحب چې دا لفظ غیرمحفوظ ګرځولي دي د وجې د سفیان دتفرد نه لکن دا خومعلومه ده چه د یو راوي په یولفظ سره تفرد د هغې دغیرمحفوظ کیدلو دپاره دلیل کافي نه وي ترڅوچې دغه الفاظ دزیادت دیوثقه راوي دالفاظونه سراسرمنافي نه وي.

ابن حجر العسقلاني وايي: وزيادة راويها مقبولة مالم تقع منافيته لمن هواوثق. تحفةالدررص١٩.

يعنې زيادت د یولفظ به مقبول وي ترڅوچې دغه زيادت منافات د اوثق نه وي. او داظاهره ده چې على صدره الفاظواضافه كول منافي نه دي او د دې ډیرشواهد شته چې په لاندې دليل کې ذكركيږي.

۴- **دليل**: امام ابن خزيمة وايي: حَدّثنَا أَبُو مُوسَى، حَدّثنَا مُؤَمَّلٌ، حَدّثنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ كُلَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ قَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى يَدِهِ الْيُسْرَى عَلَى صَدْرِهِ. صحيح ابن خزيمة ج١ ص٢٤٣ رقم ٤٧٩.

**ترجمه**: وائل بن حجر وايي: ما د رسول الله سره مونځ وکړو نو هغه نبي لاس په چپ لاس دپاسه په سينه کيښودلو.

**اعتراض**: بعضې ديابنه لكه خليل أحمدسهارنفوري ، نیموي وغیره داحديث دمؤمل بن اسماعيل د وجې نه ضعيف ګرځولي دي لکن مؤمل بن اسماعيل لاندې محدثينوثقه ګرځولي دي يحيى بن معين، الضياءالمقدسي، ابن حبان، أحمد، ابن شاهين، الدارقطني، سليمان

بن حرب، الحاكم، الترمذي، الذهبي، ابن كثير، الهيثمي، ابن خزيمة، البخاري.

**بالمقابل** أبوحاتم الرازي، أبوزرعة، يعقوب بن سفيان، الساجي، ابن سعد، ابن قانع، ابن حجر. د دوی جرح کړیده. معدلین یې ۱۴ او جارحین یې ۷ دي، د دې نه معلومه شوه چې داکثریت په نزد دي ثقه اوحسن الحدیث راوي دی.

د موسی ابن اسماعیل روایات. صحیح البخاري ۲۷۰۰، ۷۰۸۳ تعلیقاً، سنن الترمذي ۴۱۵- ۷۷۲ – ۱۸۲۲-۱۹۴۸ -۲۱۴۵- ۳۲۲۲ وغیره. سنن النسائي ۴۰۹۷-۴۵۸۹، ابن ماجه ۲۰۱۳-۲۹۱۹-۳۰۱۷.

**علاوه ازین: حافظ مزي وايي: استشهد به البخاري.** تهذيب الكمال جـ١٨ صـ٥٢٧.

یعنې دده نه بخاري بطوراستشهاد روایت کړي.

اوامام محمدبن طاهر المقدسي المتوفی سنة۵۰۷ وایې: بل استشهدبه في مواضع ليبين أنه ثقة. شروط الائمة الستة صـ١٨.

**ترجمه**: بلکه امام بخاري رحمه الله په مؤمل بن اسماعیل بطوراستشهاد دلیل نیولی دی د دې لپاره چې واضح کړي چې دي ثقه راوي دی. معلومه شوه چې مذکوره راوي دامام بخاري په نزد منکر الحدیث نه دی.

**تنبیه**:حفاظ ثلاثه، الذهبي، مزي، ابن حجر بغیرد سندنه دبخاري نه دا نقل کړي چې امام بخاري دموسی باره کې منکر الحدیث الفاظ ذکر کړي لکن دامام بخاري دا جرح په یو کتاب کې نه موندل کیږي وګوره التاریخ الکبیر جـ۸ صـ۴۹. چې په تاریخ الکبیر کې امام بخاري دمؤمل بن اسماعیل ترجمه ذکر کړي مګر هیڅ جرح یې پري نه ده کړې.

**ظفراحمد تهانوي** يوه قاعده ذكر كوي وايي: كل من ذكره البخاري في تواريخه ولم يطعن فيه فهو ثقة. قواعد في علوم الحديث ص٢٢٣.

يعني هرهغه څوك چې امام بخاري په خپلو تواريخوكي ذكركړي او هيڅ طعن پري ونه كړي نو دي به ثقه وي. اګر كه دا قاعده د اصل نه باطل ده ولي د ديوبندي مقلدينوپه نزد دامام بخاري په نزد مؤمل بن اسماعيل ثقه دي.البته امام بخاري دغه الفاظ چې منكر الحديث دى د موسى بن سعيد په هكله دغه الفاظ ويلي دي . التاريخ الكبير ج٨ ص٤٩.

دارنګ امام بخاري مؤمل بن اسماعيل په الضعفاء كې هم نه دى ذكر كړي.متقدمين او متاخرين چې دضعفاء په باره كې كتابونه ليكلي دي لكه ابن عدي ابن حبان، عقيلي ابن الجوزي د دې ټولو د مؤمل بن اسماعيل په باره كې دغه الفاظ د جرح دبخاري نه نده كړي لهذا حافظ مزي ته وهم پيداشويدي چې سعيدپه ځاي اسماعيل ذكركړي اوابن حجر او الذهبي بيا دده دوهم تابعداري كړي د دې ډيرمثالونه دي لكه د دوى وهم دالعلاء بن الحارث باره كې. لهذا دمؤمل بن اسماعيل مذكوره حديث صحيح دى.

**٥-دليل** امام أبوداود وايي: حَدَّثَنَا أَبُو تَوْبَةَ، حَدَّثَنَا الْهَيْثَمُ، يعني ابن حميد، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ مُوسَى، عَنْ طَاوُسٍ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضَعُ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى يَدَهُ الْيُسْرَى ثُمَّ يَشُدُّ بِهِمَا عَلَى صَدْرِهِ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ. سنن أبي داود ٧٥٩.
وصححه الباني في صحيح أبي داود.

**ترجمه**: طاوس تابعي وايي ؤ رسول الله چې ښي لاس به يې په چپ لاس كيښودلو بيا به يې كلك كړل په خپله سينه باندې.

## د راويانو تحقيق

**١ - ابوتوبة**: ثقة حجة عابد. التقريب ١٩٢٠.

دصحيح بخاري او مسلم راوي دی چې بالاتفاق ثقه دي **الهيثم بن حميد**. ابن حجر وايي: صدوق رُميَ بالارجاء.

يعنې دي صدوق ؤخو مرجئ ؤ لكن د ابن حجر دا جرح دجمهورو محدثينونه خلاف ده.

دكتوربشار عواد وايي: بل ثقة وثقه ابن معين ودحيم وأبوداود، وابن شاهين والدارقطني وذكره ابن حبان في الثقات وانفرد أبومسهر بتضعيفه ولعل ذلك بسبب قوله بالقدر ولايعتد بمثل هذا التضعيف اهـ. التحرير على التقريب ٧٣٦٢.

**ترجمه**: بلكه دا ثقه راوي دی او مذكوره علماء ورته ثقه ويلي دي ابن حبان دي په الثقات كې ذكر كړي دي او أبو مسهر په ضعف دده سره يوازي دي اوكيدي شي داتضعيف يې دقدريت په سبب وي خو دا تضعيف بيا كوم تضعيف كې نه شمارل كيږي. دمذكوره محدثينونه علاوه دده توثيق أحمدبن حنبل، الذهبي، امام بيهقي كړي چې دي وايي: وهذا اسناد صحيح ورواته ثقات. جزء القراءة للامام البيهقي ص٦٤.

معلومه شوه چې الهيثم بن حميد ثقه راوي دی.

**ثوربن يزيد**: داهم ثقه راوي دی. ابن سعد ، محمدبن اسحاق، دُحيم، أحمدبن صالح، يحيى بن معين، يحيى بن سعيد. محمدبن عوف، امام نسائي. أبوداوُد العجلي، ابن حبان، ساجي او أبوحاتم ورته ثقه ويلي.

ابن عدي وايي: هو مستقيم الحديث صالح في الشاميين خليل أحمد سهار نفوري وايي: وثقه كثيرون: يعنې دي ډيرو ثقه ګرځولي دي. بذل المجهود جـ٤ صـ٣٨٢ وګوره. ميزان الاعتدال جـ١ صـ٢٧٤ وتهذيب التهذيب جـ٢ صـ٣٠. ٣٢.

**خلاصه**: داچې ثوربن يزيد ثقه او صحيح الحديث راوي دی.

**سليمان بن موسی**: دی هم دجمهورو په نزد ثقه دي سعيدبن عبد العزيز، دُحيم، ابن معين، ابن عدي، دارقطني، عطاء بن ابي رباح، هشام بن عمار،ابن سعد، الزهري، ابن حبان، علي بن المديني، الذهبي، ابن حجر العسقلاني او الحاكم دې ۱۴ محدثينو ده ته ثقه ويلي دي وګوره التقريب ۲٦۱٦. وسير اعلام النبلاء جه صـ٤٣٣ والجرح والتعديل جـ٤ صـ١٤١. الكامل جـ٣ صـ١١٩ والعلل للدارقطني جـه صـ١١٠.

**لكن بالمقابل** بيا امام بخاري، النسائي، أبوحاتم، أبوزرعة الرازي، العقيلي، ورته ضعيف ويلي دي.

ددې تفصيل نه معلومه شوه چې سليمان بن موسی د جمهورو په نزد ثقه صدوق راوي دی دصحيح مسلم راوي هم دی. أبوداود دده په حديث سكوت كړی د ديوبندي تهانوي په اصولوچې أبوداود پري سكوت وكړي هغه روايت صحيح وي نو دا روايت هم صحيح دی شيخ الباني وايې: رواه أبو داود باسناد صحيح عنه.ارواء الغليل جـ٢ رقم ٨١٥.

**طاووس**: ثقة فاضل. التقريب ٣٠٠٩. دې هم دكتب سته راوي دی او د دريمي طبقي تابعي دابن عباس ﷺ شاګرد دي. معلومه شوه چې دامرسل حديث دی او مرسل حديث د احنافوپه نزدحجت دی. اګرچې مرسل ځمونږپه نزد حجت نه دي دامونږ د دوی لپاره ذكركړو.

۱. د احنافو ظفرعثماني ديوبندي مقلدوائي: قلت والمرسل حجة عندنا. اعلاءالسنن جـ١ صـ٨٢.

يعنې زه وايم مرسل حديث ځمونږ په نزد حجت دی.

۲. امام الزيلعي وايې: المرسل عند أصحابنا حجة. نصب الراية جـ١ صـ٣٩. ٣٥٣ و جـ١ صـ٧٣.

يعنې مرسل زمونږ د احنافو په نزد حجت دی.

لهذا دا قوي حديث هم په احنافودليل دی. مخکې ددينه چې دمخالفينو دلائل ذکر کړوځو اصولي قاعدي دمحدثينوذکرکول غواړو.

**اوله قاعده اواصل**: **دمرسل رواياتونه احتجاج**:

**د مرسل حديث تعريف**: دا هغه حديث دې چې تابعي بغير دواسطه نه درسول الله ﷺ نه روايت کړي. مقدمة ابن ماجة جـ١ صـ٥٣.

**د مرسل حديث نه استدلال مردود دی**:

١. امام مسلم رحمه الله وايې: والمرسل من الروايات في أصل قولنا وقول أهل العلم بالاخبار ليس بحجة. مقدمة صحيح مسلم صـ٢٢.

يعنې مرسل روايات څمونږ په نزد او په حديثو علم لرونکوپه نزدحجت نه دی.

٢. امام ترمذي. دې وايې: والحديث إذا كان مرسلاً فإنه لايصح عند أكثر أاهل الحديث قد ضعفه غير واحد منهم. ا هـ. العلل مع الشرح للترمذي جـ٤ صـ٣٩٧.

حديث چې کله مرسل وي نو داکثرو اهل حديثوپه نزد صحيح نه وي او دمتعددو اهل علموپه نزد ضعيف وي.

**٣- امام الحاكم**: دې وايې: والمرسل واهيةعندجماعة أهل الحديث من فقهاءالحجاز غير محتج بها وهو قول سعيد بن المسيب و محمد بن مسلم الزهري ومالك بن أنس وعبدالرحمن بن مهدي والأوزاعي ومحمدبن إدريس الشافعي وأحمدبن حنبل ومن بعدهم فقهاء المدينة وحجتهم فيه كتاب الله وسنة نبيه. المدخل للحاكم صـ١٢.

**ترجمه**: يعنې مرسل احاديث داهل حجازدفقهاء اهل حديثوپه نزد واهي او ناقابل احتجاج دي او داقول د امام سعيدبن المسيب، الزهري، مالك،

الاوزاعي، شافعي، أحمد اونورو دفقهاء دمديني والاؤ نه. او په دې باندې د دوی په نزد كتاب الله او سنت نه دلائل موجود دې.

**۴- حافظ ابن حجر رحمه الله**: قال سعيدبن المسيب وهومن كبار التابعين إن المرسل ليس بحجة نقله عنه الحاكم وكذا تقدم عن محمدبن سيرين وعن الزهري وكذا كان يعيبه شعبة وأقرانه والآخرون عنه كيحيى القطان وعبد الرحمن بن مهدي وغير واحد وكل هؤلاء قبل الشافعي. اهـ. النكت جـ٢ صـ٥٦٨.

**ترجمه**: سعيدبن المسيب چې دلوي تابعينونه دی وايې چې مرسل حجت نه دی د ده نه دا نقل حاكم كړي او دده نه مخكې دا قول دي دابن سيرين. الزهري كوم چې ددوی قول مخكې تيرشو همدارنګ امام شعبي او دده معاصرين او شاګردان لكه يحيى بن سعيد القطان عبد الرحمن بن مهدي وغيره مرسل حديث رد كړي او داقول دامام شافعي نه مخكې تيرشويدي.

**خلاصه**: د محدثينو د دې اقوالونه معلومه شوه چې مرسل حديث حجت او قابل استدلال نه دی.

**دوهمه قاعده**: **د رسول الله ﷺ دحديث مرفوع خلاف دصحابي قول**: درسول الله د مرفوع صحيح حديث مقابل كې كچيرته دصحابي فتوى يا موقوف حديث راشي نو بالاتفاق به موقوف حجت نه وي ځكه چې دالله تعالى او د رسول الله ﷺ داطاعت حكم قرآن مجيد وركړي اود اختلاف په صورت كې به الله تعالى اورسول الله ته فقط رجوع كيدي شي.

**۱- علامه ابن الهمام وايي**: قول الصحابي حجة فيجب تقليده عندنا إذا لم ينفه شيء آخر من السنة. فتح القدير جـ٢ صـ٣٧.

يعنې دصحابي قول حجت دی تقليدئي په مونږواجب دي خوچې د هغې نفي بل مرفوع حديث ونه كړي. مذكوره قول وګوره په فتاوى شامي جـ٢ صـ١٥٨، مرقات جـ٣ صـ٢٦٩. مظاهر حق جديد جـ١ صـ٨٨٧ اردو.

**٢- مولوي ظفراحمد تهانوي وايي:** قول الصحابي حجة عندنا إذا لم يخالفه **مرفوع.** اعلاء السنن جـ١ صـ١٣٦.

يعنې دصحابي قول زمونږ په نزد حجت دى خوچې مرفوع حديث يې مخالف نه وي.

**اوبل ځائي وايي:** ولاحجة في قول الصحابي في معارضته المرفوع لاسيما إذا كانت المسئلة مختلف فيها بين الصحابة **رضي الله عنهم.** اعلاء السنن جـ١ صـ ٤٣٨.

يعنې دصحابي قول کې حجت نه وي دمرفوع حديث په معارضه کې او خاص بياهغه مسئله کې چې دصحابه کرامومينځ کې اختلافي وي.

**٣- مولوي سرفراز ديوبندي مقلدوائي:** حضرت عباس ﷺ عبادة بن صامت ﷺ کے پیچھے سورت فاتحہ پڑھنے کے قائل تھے اور ان کی یہی تحقیق اور یہ مسلک ومذہب تھا مگر فہم صحابی اور موقوف صحابی حجت نہیں ہے۔ احسن الکلام جـ٢ صـ١٥٦.

**ترجمه:** عبادة بن الصامت ﷺ دقرات خلف الامام قائل ؤ اودده داتحقيق او مذهب هم ؤ لکن د صحابي فهم اوموقوف حديث حجت نه دى.

**خلاصه:** دمذکوره عباراتود احنافونه دامعلومه شوه چې دصحابي قول او موقوف حديث حجت نه دى بلکه دبعض شروطو په بناء:

**اول-** چې موقوف به د مرفوع خلاف نه وي.

**دوهم** دغه مسئله به د صحابه کرامومينځ کې اختلافي نه وي نو بيابه دغه دواړه صورتونوکي موقوف روايت قابل حجت نه وي

**دريمه قاعده:** کومه مسئله چې دصحابه کرامو مينځ کې اختلافي وي. مخکې دظفراحمد تهانوي عبارت ذکرشو چې دصحابي قول چې کله د مرفوع حديث معارض وي نو حجت نه دى خاص کر کله چې دغه مسئله دصحابه کرامو مينځ کې اختلافي وي. اعلاء السنن جـ١ صـ٤٣٨.

٢. **مولوي تقي عثماني ديوبندي طاغوتي وايې**: حضرت ابن عمر کا اپنا عمل اور اجتہاد ہے احادیث مرفوعہ میں اس کے تفریق کی کوئی بنیاد مروی نہیں۔ نیز صحابی کا اجتہاد حجت نہیں خاص طور سے جب اس کے بالمقابل دوسرے صحابہ کے آثار اس کے خلاف موجود ہوں؟ درس ترمذي جـ١ صـ١٩٢.

**ترجمه**: د ابن عمر ﷛ خپل اجتهاد اوعمل دي احاديث مرفوعه کې دا فرق نه شته. همدارنګ دصحابي اجتهاد حجت نه دی خاص طور کله چې د دې مقابل کې دنووصحابه کراموآثارددي خلاف وي.

**٣- مولوي عبدالقيوم حقاني ديوبندي وايې**: سب سے زیادہ معقول اور صحیح جواب یہ ہے: کہ یہ ابن عمر رضی اللہ عنہ کا اپنا عمل اور ذاتی اجتہاد ہے۔ پھر صحابی کا اجتہاد حجت بھی نہیں خاص طور پر جب اس کے مقابلے میں دیگر صحابہ کرام سے آثار موجود ہوں۔ توضيح السنن جـ١ صـ٢٠٥.

**ترجمه**: صحيح او معقول جواب دادي چې دا دابن عمر ﷛ خپل ذاتي اجتهاد دي. بيا دا دصحابي اجتهاد دي چې حجت نه دی خاص طورکله چې د دې مقابلي کې چې دنوروصحابه کراموآثار موجود وي.

**٤- ظفراحمد نهانوي ديوبندي وايې**:قول الصحابي المجتهد فيما لا نص فيه حجة عندنا يترك به القياس فإذا شاع وسكتوا مسلمين يجب تقليده إجماعا ولا يجب إجماعا فيما ثبت الخلاف بينهم. قواعد في علوم الحديث صـ٢٢٩.

**ترجمه**: د مجتهد صحابي قول چې نص په هغې کې نه وي. دغه مسئله کې. زمونږ په نزد حجت دی چې قياس به يې مقابل کې پريښودل کيږي او کومه مسئله چې په امت کې متعارضه وه او مسلمانان په هغې چپ ؤ نو بيا په اجماع دصحابي ددغه قول تقليد واجب دي او چې کوموسائلو کې اختلاف دصحابه کرامو موجود ؤ نو بيا په اجماع واجب نه دی.

**٥- صاحب التوضيح د احنافونه وايې**: في تقليدالصحابي يجب إجماعا فيما شاع وسكتوا مسلمين ولا يجب فيما ثبت الخلاف بينهم. التوضيح صـ٣٢٢.

يعنې دصحابي تقليد په اجماع واجب دي چې په داسې مسئله کې وي چې مشهوروي او مسلمانان پرې چپ هم ؤ. البته واجب نه دی چې کله د دوی په مينځ کې اختلاف وو.

معلومه شوه چې په کومه مسئله کې اختلاف ؤ داحنافوپه نزد موقوف حديث قطعاً حجت نه دی.

**څلورمه قاعده**: دتابعينو اقوال په دين کې حجت نه دی. کومه مسئله چې دقرآن وسنت نه ثابته وي او دصحابه کرامو په آثاروکې موجود هم وي نو د تابعينو په اقوالو کې بيا حجت نه وي.

**امام ابوحنيفه رحمه الله وايي**: چې کله کومه مسئله ابراهيم نخعي، امام شعبي، حسن بصري، عطاء ته راورسيده نو چې هغوی په دغه مسئله کې اجتهاد کوي نوزه يې هم په دغه مسئله کې اجتهاد کوم. مناقب امام أبوحنيفه صـ٢٠.

٢- **ظفراحمد تهانوي وايي**: فإن قول التابعي لا حجة فيه. اعلاء السنن جـ١١ صـ٣١.

يعنې دتابعي په قول کې هيڅ حجت نه شته.

٣- **ديوبندي ماسټر امين اوکاړوي وايي**: *تابعی کا عمل اگر چہ اصول کے مخالف نہیں بھی ہو تو تب بھی اس سے استدلال نہیں کیا جا سکتا۔ اھ* مجموعة رسائل جـ٢ صـ٩٩.

يعنې د تابعي عمل اګرچې د اصولو مخالف هم نه وي د دې نه به استدلال نه شي کيدی.

**معلومه شوه** چې دتابعي قول او عمل حجت شرعي نه وي داحنافو په نزدچې اکثردوی دخپلو اصولو خلاف کوي ځکه د دوی سره په اکثرو مسائلوکې مرفوع احاديث نه وي نو بيا کله د تابعي قول او عمل کله دصحابي قول هغه هم ثابت نه وي پيش کړي.

**پنځمه قاعده: دعلماء اقوال شرعي حجت نه وي:**

بلا شبه د خيروالقرون علماء اوائمة زمونږ اسلاف دي لکن دين د دوی دخبرو نوم نه دی بلکه دين قرآن وسنت دي که ددغه بزرگانوفتوی دقرآن وسنت مطابق وي نو نور على نور اوکه دقرآن وسنت خلاف وه نو بيا د هيڅ امتي قول حجت نه دی.

۱- **امام حاکم بن عتيبة رحمه الله وايي:** چې دخلکونه به دهرسړي خبراخستل کيږي هم او رد کولي به هم شي سواء درسول الله نه. الاحكام لابن حزم ج٦ ص ٢٩٣.

۲- دابراهيم نخعي مخکې چا د سعيدبن جبيرقول پيش کړه نو هغه وويل چې رسول الله دحديث مقابل کې دسعيد بن جبيرپه قول څه وکړو؟ احكام ج٦ ص٢٩٣.

۳- **ملاسرفراز ديوبندي وايي:** یہ باب شک و شبہہ سے بالکل بالاتر ہے کہ قرآن و حدیث کی تصریحات اور خلفاء راشدین کے صحیح اور صریح اقوال کے موجودگی میں کسی مجتہد اور امام کے کسے قیاس اور رائی قطعا کوئی وقعت نہیں۔ الكلام المفيد ص٣٠١.

يعنې داخبره بلاشك او بلاشبه اوچته ده چې دقرآن وسنت دتصريحاتو او دخلفاءراشدينودصحيح او صريح اقوالو په موجودگۍ کې دهيڅ کوم مجتهد او امام څه قسم قياس او رائي قطعاً گنجائش نه شته.

**شپږمه قاعده**: ديو شي عدم ذکر د دې لازم نه ده چې دابه نه وي يعنې کوم آيت يا حديث کې د يوي خبري ذکر نه وي دابه د دې مستلزم نه وي چې دابه بالکل نه وي بلکه دغه خبره به په بل آيت يا حديث کې ثابته وه نو داخبره به ثابته وي.

۱ - **علامه الزيلعي وايي:** ولايلزم من عدم ذكرالشئ عدم وقوعه. نصب الراية ج٢ ص٢٣٨.

يعنې دعدم ذكر الشئ نه دا نه لازميږي چې دابه نه وي.

**٢ - يوسف بنوري وايې**: عدم الذكر لايدل على ذكر العدم. معارف السنن جـ٣ صـ ٩٩.

يعنې عدم الذكر دلالت نه كوي په نشتوالي ددغه شي.

**خلاصه داشوه** چې عدم نقل يا عدم ذكر د شي په دې دلالت نه كوي چې دابه وجود كې نه وي بلكه په بل نص كې به موجود وي. ځكه دشريعت احكام به ديو نص نه شي اخستل كيدي مثلاً مونځ چې په يوحديث كې د هغې پوره والي نشته بلكه يو ركن په يوحديث بل په بل وغيره.

**اومه قاعده**: مثبت به مقدم وي په نافي. داهم دفريقينو په نزد منلي شوي قاعده ده چې مثبت مقدم دي په نافي باندې. د دې دا مطلب دي چې په يو حديث كې اثبات ديوي مسئلي راغلي وي او په بل كې نفي ده نو اثبات به مقدم وي ځكه چې دده سره زيادت دعلم دي

**١ - شامي ليكي**: والمثبت مقدم على النافي. الشامي جـ٢ صـ٦٥، وحاشية آثار السنن صـ١٤٢.

**٢ - سرفراز صفدرليكي**: اثبات کا نفی پر مقدم ہونا محدثین کے طے شدہ مسئلہ ہے۔ احسن الكلام صـ٢٥٩.

مثبت مقدم كول په نفي باند ي دمحدثينو اتفاقي مسئله ده.

**٣ - علامه الزيلعي حنفي وايې**: والإثبات مقدم على النفي. اهـ نصب الراية جـ١ صـ٣٥٩.

يعنې اثبات به په نفي مقدم وي.

## د احنافودلائل چې لاسونه دنامه نه لاندې سنت دي

**١. دليل**: أخبرنا حجاج بن حسان قال سمعت أبامجلز او سالته قال قلت كيف يضع قال يضع باطن كف يمينه على ظاهر كف شماله ويجعله أسفل من السرة **اهـ**. مصنف ابن ابي شيبة جـ١ صـ٣٩١.

ترجمه: حجاج وايي دأبومجلز نه مي سوال وکړو چې څنګه لاسونه په مونځ کې کېږدي هغه وويل ښي ورغوي په حب او دنامه نه دې لاندي کېږدي.

**۱- جواب** : **فإن التابعي لاحجة فيه**. اعلاء السنن جـ۱۱ صـ۲۳.

[redacted] کې

**۲ - جواب**: ددیوبندي او نورومقلدینودیاره خو دأب [redacted]
حجت وي دنورو تابعينو

**۳ جواب**: دأبو ... د قول خلاف دي چې
هغه وايي رسول الله به لاسونه دسيني دپاسه ايښودل. سنن أبوداود۷۵۹ وسنده حسن الى طاوس رحمه الله.

**۴- جواب**: احناف وايي چې هيجړاګان اوښځي به دسيني دپاسه لاسونه تړي ولې د دې قول خلاف کوي ؟ وګوره شامي جـ۱ صـ۴۸۷.

**۲. دليل**: عن ابراهيم: **قال يضع يمينه على شماله في الصلاة تحت السرة**. ابن ابي شيبة جـ۱ صـ۳۹۱.

ترجمه: ابراهيم نخعي تابعي وايي: چې مونځ کونکي به ښي لاس په چپ [redacted] لاندې.

**۱ جواب**: ... چې ... ث مقابل کې
ک چې ... کې ذک

**۲** ... سند کې ربيع بن صبيح دي ابن حجر وايي سئ الحفظ. التقريب ۱۸۹۵.

بلکه دي يحيى بن معين محمد بن سعد، ، ، [redacted]
، کړيدي وګوره التحرير على التقريب ۱۸۹۵.

غرض دا چې آثر ضعيف قابل استدلال نه وي.

**٣ دليل**: عن ابراهيم النخعي.رح. أنه كان يضع يده اليمنى على اليسرى تحت **السرة.** كتاب الآثار لمحمد صـ٢٨.

ترجمه: ابراهيم نخعي به ښي لاس په چپ لاس دنامه نه لاندې ايښودلو.

**١- جواب**: ... لأ ... ک ... اني د

محدثينو په نزد كذاب دي وګوره كتاب الضعفاء للعقيلي جـ٣ صـ٥٢.وسنده صحيح.

**٢- جواب**: داهم دتابعي قول دی چې ... يې ، ... که چې

اصولوکي ذکر شول او په سندکي هم ربيع بن صبيح ... چې

دهغه حال مخکې ذکر شو لهذا دا روايت هم صحيح نه دی.

**٤- دليل**: عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ ، عَنْ أَبِيهِ ، قَالَ : رَأَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ وَضَعَ يَمِينَهُ عَلَى شِمَالِهِ فِي الصَّلاَةِ تَحْتَ السُّرَّةِ. مصنف ابن ابي شيبة جـ١ صـ٢٩٠.

**ترجمه**: وائل ابن حجر دپلارنه روايت کوي وايې ما رسول الله ﷺ وليده چې

نبي [redacted] يې [redacted] لاندې ک .

**کوره** روايت په المصنف کې [redacted] چې کوم

وجود نلري بلکه [redacted]

اضافه کړی. د دې ثبوت دادی.

١- **علامه محمدحيات سندهي** وايې: في ثبوت زيادة تحت السرة نظر بل هي غلط منشائه السهو فإني راجعت نسخة صحيحة للمصنف فرأيت فيها هذا الحديث بهذا السند وبهذا اللفظ إلا أنه ليس فيها تحت السرة. بل مارأيت ولاسمعت أحدا من أهل العلم ذكر هذا الحديث بهذه الزيادة إلا القاسم. فتح الغفور في وضع الايدي على الصدورصـ٧٧- ٧٨.

**ترجمه**: دي حديث کې دتحت السرة لفظ په ثبوت کې نظر دی بلکه دا غلط دی او د دې سبب سهوه ما د مصنف صحيح نسخه وکتله چې [redacted] دا حديث په همدې سند او لفظ سره موجود وو مګرتحت السرة لفظ پکې نه

ؤ. بلکه مانه ليدلي دي اونه مي دهيڅ عالم نه دا اوريدلي دي چې دا حديث يې په دی زيادت سر ذکر کړي وي سوی دقاسم بن قطلوبغا [redacted] قاسم بن غا ک

٢. **علامه انورشاه الكشميري** هم دا مني چې دا زيادت په المصنف کې نه شته وايې: ولاعجب ان يكون كذلك فاني راجعت ثلاث نسخ للمصنف فماوجدته في واحدة منها اهـ فيض الباري جـ٢ صـ٢٦٧.

ترجمه: يعنې دا کوم دتعجب خبره نه ده چې دا زيادت غلطي د[redacted]ه چې علامه حيات سندهي وايې[redacted]ه ما خپله دمصنف ٣ نسخي وکتلي اوپه يوه کې هم مي دا زيادت ونه موندلو.

٣- **متعصب ديوبندي نيموي** چې د چالاکۍ نه يې کار اخستي دي وايې: الإنصاف أن هذه الزيادة وإن كانت صحيحة لوجودها في أكثر النسخ من المصنف لكنها مخالفة للروايات الثقات فكانت غير محفوظة التعليق الحسن صـ٧١.

**ترجمه**: انصاف خبره داده چې دا زيادت د مصنف په اكثر نسخوكې نشته [redacted]ه حنفيانو چې چاپ کړي. موجود دي[redacted]ن دا زيادت دثقه رواياتو نه خلاف دي نو د دې وجې نه غيرمحفوظ دي.

٢- **جواب**: متقدمين علماء احناف[redacted]ه علامه عيني په عمدة القاري او البناية کې دا روايت په دي زيادت سره ولې ذکر نه کړه؟ ده دعلي ﷺ ضعيف روايت دفاع کړې[redacted]ن څه وجه ده چې د اوسنواحنافوپه نزد چې مذکوره حديث. سنده جيد. ولې ذکر نه کړه

٣- **علامه ابن عبد البر** په التمهيد جـ٢٠ صـ٧٣ - ٧٢. کې دامسئله ذکرکړي او ډيرآثارئي د المصنف نه ذکر کړي دائي څنګه پريښي دي؟

٤- **علامه علاء الدين** ابن التركماني متعصب حنفي المتوفى ســـــنة ٧٣٥هـ. د الجوهر النقي مصنف دامام بيهقي معمولي ضعيف دليل باندې

تعاقب كوي او د أبومجلز آثرئي ذكركړي لكن دا حديث يې ددغه زيادت محرفه سره ولي ذكرنه كړه وګوره الجوهر النقي في الرد على البيهقي جـ٢ صـ٣١.

**٥- علامه الزيلعي حنفي** المتوفى ســـنة **٧٢٢ هـ** په نصب الراية جـ١ صـ٣١٤. كې چې كله خپل دلائل ذكر كوي نو صرف دعلي رضي الله عنه **هغه ضعيف** روايت ذكر كوي چې دا ترينه ولي پاتي شو حالانكه امام زيلعي حتى الوسع د احنافو دپاره دلائل راوړي ولوكه ساقط الاحتجاج هم دي؟

**خلاصه** داشوه چې دا قول د دې ثبوت دی چې دغه زيادت محرف اوبعضې احنافو زيات كړي. حاسبهم الله.

**٥ دليل**: عن أبي جحيفة أن عليا قال من السنة وضع الكف على الكف في الصلاة تحت السرة. أبوداود نسخة ابن الاعرابي صـ٢٨٠ والبيهقي جـ٢ صـ٣١ وأحمد جـ١ صـ١١٠ وابن ابي شيبة جـ١ صـ٣٩١ والدار قطني جـ١ صـ٢٨٦.

**ترجمه**: أبوجحيفه وايې علي رضي الله عنه وايې: په مونځ كې ايښودل دښي ورغوي په چپ باندې دنامه نه لاندې سنت دي.

**١ جواب ګواه ازخانه**: علامه ابن الهمام حنفي، علامه الحافظ الزيلعي، علامه حلبي حنفي وايې: قال النووي اتفقوا على تضعيفه لانه من رواية عبد الرحمن بن إسحاق الواسطي المجمع على تضعيفه. اهـ. نصب الراية جـ١ صـ٣١٤ فتح القدير لابن همام جـ١ صـ٢٤٩ ومستملي شرح منية المصلي صـ٣٠١.

**ترجمه**: امام نووي رحمه الله وايې چې دټولو محدثينوددې په ضعف اتفاق دي. عبد الرحمن بن اسحاق الواسطي: امام احمد اوأبو حاتم وايې منكر الحديث امام ابن معين اوامام بخاري وايې فيه نظر أبوزرعة وايې منكر الحديث.امام ابن حجر او الذهبي هم ورته ضعيف ويلي دي وګوره نصب الراية جـ١ صـ٣٤٥ تهذيب التهذيب جـ٦ صـ١٣٧. ميزان الاعتدال جـ٢ صـ٥٤٨. والتقريب ٣٧٩٩.

**٢- ملا عبدالقيوم حقاني ديوبندي** دا روايت هم په توضيح السنن شرح آثار السنن جـ١ صـ**٥٥٦**کې ضعيف ګرځولي دي.

- **دحنفي ديوبندي ملا علامه نيموي وضاحت** دې وايې: وفيه عبد الرحمن بن اسحاق الواسطي وهو ضعيف. آثار السنن حاشية رقم الحديث ٣٣٠.

**خلاصه** داچې حديث ثابت نه دی خپله علماء احناف د دې قائلين دي چې صاحب البيت ادری بمافيه

**٦- دليل** عن ابي وائل قال قال أبوهريرة ﷺ. **عَنْ أَبِى وَائِلٍ قَالَ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ أَخْذُ الأَكُفِّ عَلَى الأَكُفِّ فِى الصَّلاَةِ تَحْتَ السُّرَّةِ.** محلى لابن حزم جـ٣ صـ٢٠.

ترجمه: أبوهريرة ﷺ وايې: د ورغوي نيول په ورغوي په مونځ کې دنامه نه لاندې دي.

**١- جواب**: ددې سند کې هم عبد الرحمن ابن اسحاق الواسطي دی مخکې ذکر شو چې بالاتفاق ضعيف او ساقط الاحتجاج راوي دی. قال أبوداود سمعت أحمدبن حنبل يضعف عبد الرحمن بن إسحاق الواسطي الكوفي. أبوداود٧٥٨.

يعنې ما د احمد بن حنبل نه اوريدلي دي چې عبدالرحمن بن اسحاق الكوفي يې ضعيف ګرځولي دي.

**٢- جواب**: علاوه ازين خپله حنفي علماء دا حديث ضعيف ګرځولي. علامه نيموي په التعليق الحسن صـ٩١شبير احمد عثماني په فتح الملهم جـ٢ صـ٣٠، خليل احمد سهار نفوري په بذل المجهود جـ٢ صـ٢٣ کې دا روايت ضعيف کړي دي.

امام ابن حزم دا روايت بلاسند ذکر کړي لهذا دهغه نه نقل هم حجت نه دی.

**٧- دليل**: عن علي ﷺ قال ثلاثة من أخلاقِ الأنبيآء تَعجِيل الإفطارِ وَتأخِيرُ السّحُورِ وَرفعُ الأكُفِّ تَحتَ السُّرة في الصلاة. منتخب كنز العمال بر مسند أحمد جـ٦ صـ٣٥٠.

**ترجمه**: علي ﷺ وايې چې درې شيان دي چې دانبياء عليهم السلام داخلاقو څخه دي. افطار کې جلتي کول پيش نمي کې تاخيرکول او د ورغوي ايښودل په مونځ کې دنامه نه لاندې.

**جواب**: دا روايت کنز العمال کې بلاسند ذکر دي او هغه چې په کوم کتاب حواله ورکړي کتاب الصلاة دابن شاهين هغه نه متداول او نه معروف دي مدعي بايد سند پيش کړي بلاسنده خبره مردود ده.

**٢- جواب** دا روايت د متعددو صحابه کرامو نه نقل دی [redacted] تحت السرة لفظ نه شته بلکه:

**د ابن عباس** ﷺ روايت دار قطني جـ١ صـ٢٨۴. ابن حبان **٨٨٥** بيهقي جـ۴ صـ٢٢٨ طيالسي **٢٢۵۴**-

**ابن عمر** ﷺ روايت طبراني اوسط **٣٠۵٣**-

**د عائشة** رضي الله عنها روايت دار قطني جـ١ صـ٢٨۴-

**د ابودرداء** ﷺ روايت نصب الراية جـ٢ صـ٢٧٠

**د حذيفة** ﷺ په روايت نصب الراية جـ۴ صـ۴٧٠ او نورو صحابه کرامو چې ديونه ه[redacted] تحت السرة لفظ نشته نه په کنز العمال کې دايو تصحيف دی او کنه نو سند خوئي ذکر نه دی لأن الاسناد من الدين.

**٨- دليل**: عن أنس ﷺ قال: ثلث من أخلاق النبوة تعجيل الافطار وتاخير السحور ووضع اليد اليمنى على اليسرى تحت السرة. محلى ابن حزم جـ٢ صـ٣٠.

**ترجمه**: انس ﷺ وايي: درې شيان دانبياء عليهم السلام داخلاقونه دي. افطار كې جلتي كول. پيشمني كې روستوالی او ښي لاس په چپ ايښودل دنامه نه لاندې.

**١- جواب**: اول داچې ابن حزم بغير د سندنه دا ذكر كړي چې قبول نه دي

**٢- جواب**: دامام بيهقي په الخلافيات جـ١ صـ٣٤٢ كې د دې په سند كې سعيد بن زربي البصري العباداني دي.

ابن حجر وايي منكر الحديث. التقريب ٢٣٠٤.

امام بيهقي دغه روايت سخت ضعيف كړي وګوره نفس المرجع.

امام ذهبي وايي: قال النسائي ليس بثقة ضعفه الدارقطني وأبوداود. المغني في الضعفاء رقم ٣٨٩.

لهذا دا آثرهم ضعيف او قابل استدلال نه دی.

**٩- دليل**: احناف د علي ﷺ په روايت د ( فصل لربك وانحر ) تفسير كوي وايي: وضع اليمنى على اليسرى تحت السرة. التمهيد جـ٢٠ صـ٧٨.

**ترجمه**: پس مونځ كوه رب خپل لره او قرباني كوه. علي رضي الله عنه وايي د وانحر معنى ايښودل دښي لاس په چپ باندې دنامه نه لاندې.

**١- جواب**: حمادبن سلمة چې د أبو الوليد الطيالسي نه روايت كوي امام أبو حاتم وايي چې أبوالوليد سماع دحماد نه اخري عمر كې وه چې حافظه يې خرابه شوې وه . تهذيب التهذيب جـ١١ صـ٤٧. الجرح والتعديل جـ٤ صـ٦٦.

اودمختلط راوي روايت بالاتفاق ضعيف وي.

**٢- جواب**: د عاصم الجحدري او عقبة بن صهبان په مينځ كې العجاج الجحدري واسطه وه چې العجاج مجهول الحال دی.

۳ - **جواب**: دعلي ﷺ نه دوهم روایت علی صدره هم راغلي دي. السنن الكبرى للبيهقي جـ٢ صـ٣٠.

۴- **جواب**: ابن التركماني حنفي وايي: وفي سنده ومتنه إضطراب. الجوهرالنقي جـ٢ صـ٣٠.

يعنې د دې روايت په سند او متن کې اضطراب دی. لهذا داهم قابل استدلال نه دی.

**اخري عرض**: دحنفي وررونو سره داسې کوم مرفوع صحيح حديث نشته چې د دوی د مدعا دليل شي لهذا الحمد لله په دې رساله کې چې څه ذکر شول بايد دانصاف په نظر دي وکتل شي انسان دخطاء اولغزش نه خالي نه دی مونږ حق منو حق ته رجوع کوو خوچې مونږته يې ثوك وښائي هرکله چې دې باره کې صحيح احاديث ذکر شول نه چې ثوك يې ، د مذهب د وجې نه پرېږدي د شاه ولي الله دې قول ته دې ښه متوجه شي:

**شاه ولي الله وايي**: فإن بلغنا حديث من الرسول المعصوم الذي فرض الله علينا طاعته بسند صالح يدل على خلاف مذهبه و تركنا حديثه و اتبعنا ذلك التخمين فمن أظلم منا وماعذرنا يوم يقوم الناس لرب العالمين. حجة الله البالغة جـ١ صـ٣٥٤ طبع بيروت.

**ترجمه**: کچیرته مونږته د رسول معصوم ﷺ نه داسې رسول ﷺ چې الله تعالى په مونږ د هغې تابعداري فرض کړيده. صحيح حديث په صحيح سندسره راورسيده چې دلالت يې کولوپه خلاف دمذهب زمونږ. او مونږ دغه حديث د مذهب د وجې نه پريښوده او مونږ ددغه تخميني مذهب تابعداري وکړه نوڅوك به زيات ظالم وي زمونږ نه او الله تعالى رب العالمين ته به زمونږڅه عذر وي کله چې خلك هغه ته په قيامت کې ودريږي.

الله تعالی دې وکړي چې مونږ ټول دالله تعالی مطیعین بندګان جوړشو او په پوره دین عمل وکړو الله تعالی دې مونږ ټولوته هدایت وکړي آمین یا رب العالمین.

كتبها ذلك إيمانا واحتسابا
أبويزيد عبد القاهر خراساني حفظه اللّه
صفر المظفر. ١٨. ١٤٣٣هـ

## فهرست


| صفحه | موضوع | شماره |
|---|---|---|
| ۱ | مقدمه | ۱ |
| ۲ | په سينه د لاسونو تړلو دلائل | ۲ |
| ۲ | اول او دوهم دليل او د حديث تحقيق | ۳ |
| ۳ | د صحيح البخاري د حديث نه استدلال او دريم دليل | ۴ |
| ۴ | د دريم دليل د حديث تحقيق | ۵ |
| ۴ | د سماک بن حرب جارحين | ۶ |
| ۶ | د سماک بن حرب معدلين ۱۸ محدثين دي | ۷ |
| ۸ | د نيموي اعتراض چې على صدره محفوظ نه دی د دې جواب او څلورم دليل | ۸ |
| ۸ | بعضې احنافو څلورم حديث د مؤمل ابن اسماعيل د وجې نه ضعيف ګرځولی دی | ۹ |
| ۹ | د احنافو د دې تضعيف جواب | ۱۰ |
| ۱۰ | پنځم دليل | ۱۱ |
| ۱۱ | د پنځم دليل د راويانو تحقيق | ۱۲ |
| ۱۲ | مرسل حديث د احنافو په نزد حجت دی | ۱۳ |
| ۱۳ | اوله قاعده: د مرسل رواياتو نه استدلال مردود دی | ۱۴ |
| ۱۳ | د امام مسلم، الترمذي او امام حاکم د مرسل حديث رد کول | ۱۵ |

| شماره | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۱۶ | دوهمه قاعده: د رسول الله ﷺ د مرفوع حديث مقابل کې موقوف حديث مردود دی | ۱۴ |
| ۱۷ | د امام ابن الهمام، ظفر احمد تهانوي او سرفرازخان صفدر اقوال چې موقوف حديث د مرفوع مقابل کې مردود دی | ۱۴ |
| ۱۸ | دريمه قاعده: اختلافي مسائلو کې موقوف حديث د مرفوع مقابل کې رد دی | ۱۵ |
| ۱۹ | د تقي عثماني ديوبندي طاغوتي او عبدالقيوم حقاني اقوال چې د صحابي قول به د مرفوع مقابل کې مردود وي | ۱۶ |
| ۲۰ | څلورمه قاعده: د تابعينو اقوال په دين کې حجت نه دی | ۱۷ |
| ۲۱ | پنځمه قاعده: د علماؤ اقوال په دين کې شرعي حجت نه دی | ۱۸ |
| ۲۲ | شپږمه قاعده: عدم الذکر د يو شي عدم د شي لره مستلزم نه وي | ۱۸ |
| ۲۳ | اوومه قاعده: مثبت به په نافي مقدم وي | ۱۹ |
| ۲۴ | د احنافو دلائل چې لاسونه به د نامه نه لاندې ږدي ۱- دليل او د هغې جواب | ۱۹ |
| ۲۵ | د احنافو ۲ ، ۳ او څلورم دليل او د هغې جوابونه | ۲۰ |

| شماره | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۶ | د وائل بن حجر په حدیث کې د تحت السرة د لفظ نشتوالی | ۲۱ |
| ۲۷ | د علامه محمد حیات سندهي او انورشاه کشمیري قول چې تحت السرة په دې حدیث کې نشته | ۲۱ |
| ۲۸ | متقدمینو احنافو علماؤ دغه لفظ په حدیث د وائل بن حجر کې نه دی ذکر کړی | ۲۲ |
| ۲۹ | پنځم دلیل او د دې جواب | ۲۳ |
| ۳۰ | ۶ او ۷ دلیل او د هغې جواب | ۲۴ |
| ۳۱ | اتم دلیل او د هغې جواب | ۲۵ |
| ۳۲ | نهم دلیل او د هغې جواب | ۲۶ |
| ۳۳ | د شاه ولي الله دهلوي قول چې د مذهب مقابل کې حدیث پریښودل لوی ظلم دی | ۲۷ |




ABTALUL ISLAM
www.abtal.webs.com
abtalulislam@gmail.com